# اوبه که نن مهارنشي سبا ناوخته ده!

# اوبه یعنی آبرو یعنی ژون

اوبه هغه ستر نعمت ده چې الله (ج) دهستي د ښکلا او ژوند د بقا لپاره د جوړښت ورغښت او د کائناتو د سمون و بسیا لپاره ډالی یا هدیه کړې دي، ژوند بی له اوبو او هوا نه شتون نشي درلودلی، درې پرڅلورمه برخه د ځمکې، اوبو نه جوړه ده خو له بده مرغه ستربرخه اوبه مالګه لري چې حیوانات او نباتات ترې ګټه نشي اخیستی، نوځکه دا یوه سلنه اوبه چې خوړې دي د ژوند ټول اړخو ته حیاتی ارزښت لري، باید ډېره ورته پاملرنه وشي، ۱۴۰۰کاله دمخه حضرت محمد(ص) فرمایلي:

"د اوبو یوه قطره هم مه ضایع کوئ، که تاسو د سیند په غاړه هم ناست یاست".

د اوبو ککړول، چپاړیال سره ناوړه چلند او د جمعیت زیاتېدنه د کراو کښت کم والی د اوبو نه نشتون له عمله هرورځ ژوند ته د دې حیاتی کې مادې د ارزښت دزیاتېدو د خطر زنګ غږوي، نوځکه اوبو ته پام لرنه او دغې ارزښناکې مادې په مصرف او ساتلوکې زیار دهر بادرکه وګړي نده جوړوي۰

د اوبو مصرف زمونږ په هیواد کې له معیاره وتلې ده داچې په کومو برخوکې اوبه زیاتې او بېځایه مصرف ېږي، ککړېږي او له ګټه اخیستو وځي ډېر د اندېښنې وړ خبره ده، پنځوس کاله د مخه د اوبو معضل چاته غټه خبرنه ښکارېده او ټولو داسي انګېرله چې اوبویوه نه خلاصېدونکی نعمت ده، خو اوس وخت بدل شوې هغه وخت جمعیت د نن په پرتله زیاد نه و او دخلکو اقتصاد هم قوي نه و، هغه وخت یوپر دریمه برخه اوبه چې نن مصرفېږي؛ مصرفېدلې، دلیل دا ده چې نن نفوس ۷ ملیارد ته رسېدلی د غوښو، سبو او اوبو مصرف هم ورسره زیات شوی د دې سره سم د اوبه د مهارولو، ترلاسه کولو د صنعت او ښاري خدمتو لپاره اړینه ده، اقلیمی او آب وهوائي بدلونه د دې سبب شوي چې وچکالي رامنځ ته شي ځنې هیوادونه د نه مدیریت او ضعیف اقتصاد له عمله د وچکالي نه سترزیانونه ګاللي او ګالي ئې په تېره په ځنې افریقایی هیواد وکې۰

راتلونکي شلو کلو کې به افغانستان چې په وچه کې موقعیت لري له ستروستونزو سره مخ شي زمونږ ګاونديان دې لپاره چې زمونږ مفته اوبه ورته بهيږي په لسها وو نبدونه جوړکړي خو زمونږ مشران پرته د داکترغنی نه په دې برخه کې دسترو غیرملی کړنو تورن دي او دا نبښونکي او نه جبرانوکي یوعمل ده چې باید ځواب ورکړي٠

**گواښونه**

- راتلونکي شل کاله زمونږ ملک ته چې په وچه کې پروت دي خوږو اوبه مهار ته د نه پاملرنې لکبله سترو او ګواښو او ستونز وسره مخ کېدای شي٠
- اقتصادی کارپوهان پدې اند دي چې د اوبو ارزښت هرورځ مخ په زیاتېدو ده د دغي ستر نعمت په مهارولو کې هررنګه تعلل، د افغانستان دخلکو دفقر، بېروزګاري د زیاتوالي او سترو زیانو عامل کیدای شي٠
- یوسترعامل د خوږو اوبه د کمښت په ټول جهان کې د اوبو ککړتیا ده، خو زمونږ په ملک کې ئې کچه له حده زیاته ده چې د یو ستر تبلیغاتی کمپاین په وسیله د دې تهدید کچه کمېدای شي او ټول خلک باید پدې کې ستره ونډه واخلي٠
- اوبه د ژوند او وطن د پایدارۍ او تل پاتې رغوني او پراختیا یوستر عامل په اقتصاد او هم په سیاست کې شمېرل کيږي د اوبو مهار، کولی شي چې ګاونډي مجبورکړي د افغانستان سره خپل سیاسی او تجاري اړیکو ته پاملرنه وکړي٠
- د اوبه ککړتیا د انسان دصحت دخرابوالي او ساري ناروغیو دزیاتوالي سترعامل ده چې باید پام لرنه ورته وشي٠

دولت او خلک باید داسې روزنې ترلاسه کړي چې څنګه کولی شي چې خپلې اوبه او چېپریال له کثافاتو او باطله لوښو پاک او صفا وساتي دا باید له مکتب ومدرسې نه نیولې بیا تر مسجدوترممبره د دې ستري ارزښتناکه مادې د ساتلو لپاره سترکمپاین په لارواچول شي٠

## د اوبو منابع او تنظیم:

څرنگه چې پورته مې و ویل اوبه یو سترخدایي نعمت ده هرڅومره چې تمدن پراختیا مومي په همهغه اندازه اوبه مصرف او اړتیا هم زیاتیږي دنفوسو زیاتوالی په تیره په آسیا کې کرنه او څښاک ته د اوبو اړتیا زیاته کړې او کوي ئې، د ظاهرشاه په زمانه کې د یو شخص مصرف ۲۰-۲۵ لیتره په ورځ کې سنجول شوی و، خو اوس دغه توازن له منځه تللی ده او هرسړی د اوبو له زېرموسترګته اخلي چې یو زیاته پیمانه دغه اوبه بیا بې ځایه ضایع کیږي په داسي حال کې چې په ځمکه کې زېرمي شوې اوبه د نباتاتو دبقا او ژوند ته ستر ارزښتمندي دي، زمونږ هیواد کې اوس د اوبو د زیرمو سطحه ډېره ټیټه شوې ده او ډیرې دښتي او ځنګلونه مو وچ شوي او له منځه تللي دي، په متمدنه نړۍ کې د یوشخص مصرف اوس ۵۰۰ نه تر ۶۰۰ لیتر اوبه دي چې لا په زیاتېدوده په هرصورت، زموږ د هیواد مساحت یا پراخوالی ۶۵۲،۲۲۵ کیلومترمربع ده په اوسط توګه وربښت زمونږ ملک کې ۲۵۰ ملي متره چې په کال کې ۱۶۳ بیلیون مترمکعبه اوبه اټکل شوي چې له دې جملې نه ۵۷ بیلیون مترمکعب اوبه په رودونو کې ۱۸ بیلیون مترمکعبه ترځمکې لاندې او نور ئې یا په بخار او په بوټو یا نباتاتو او نورو موجواتو په وجود کې ذخیره دي چې په احصائیه کې نه راځي، افغانستان له بحره به اوسط توګه ۱۲۰۰متره لوړ والی لري چې په مرکزی ساحوکې دا لوړوالي ۱۸۰۰ متره په جلال آباد کې ۴۵۰ متره او په بدخشان کې ۲۵۰۰ مترو ته رسیږي، ترټولو جګه قُله د بدخشان [نوشاق] قُله ده چې ۷۴۹۲ متره او ژوره سیمه د آموسیند ده چې ۲۵۰ متره له بحره لوړ واقع شوې ده، په اوسطه توګه وربښت په لوېدیځ او سویلختیځ وسیموکې ۲۵۰ ملی متره اوپه لوړو سیمو کې چې تر۳۰۰۰ متره زیاتې لوړې دي په غرنیو برخوکې د ۴۵۰ تر ۱۰۰۰ ملی متره په کال کې رسیږي.

او د [واورې] وربښت د [پامیر] او[ واخان] په برخوکې ۱۰۰۰ ملی متره یا یومتر ته رسیږي ، د وزیرانو شورا د سلواغې میاشت کال ۱۳۸۶هـ ش د ښاغلی کرزي په سلطنت او د تورن اسماعیل خان په وزارت کې د افغانستان د اوبه دسکتور استراتیژي تصویب شوه او بیا د میزپه الماری کې قفل

شوه چائي مخ پورته نکړ، د دې استراتېژي  په اساس ئي افغانستان د اوبو په پنځو حوزو باندې ويشل شو چې دا حوزې دا دي:

- **۱- دآموحوزه۰**  دغه حوزه کې کارد تورن اسماعيل خان وقتکې [صفر]
- **۲-دشمال سيندنوحوزه۰** کار داسماعيل خان وقتکې[صفر]
- **۳-دهريرود او مرغاب حوزه۰** داسماعيل خان وقتکې کار[صفر]
- **۴-دهلمند سيندنو حوزه۰ کار داسماعيل خان وقتيکه [صفر]**
- **۵- د کابل سيند حوزه  او نورې فرعي حوزې۰  کار د اسماعيل خان وقتى که[صفر]**




نقشه حوزه های فرعی دریا ها (منبع: ایف-ای-او و ایمز)




په مجموع کې، په اوسط توگه وربنت په ټول هېواد کې ۱۶۵۰۰۰میلیون مترمکعبه په کال کې او په مجموعي صورت د سطحي اوبو کلنی حجم ۵۷۰۰۰میلیون مترمکعبه دی۰

په اوسطه توگه دسطحي اوبو موجودیت د هرنفرلپاره ۲،۴۸۰ مترمکعبه په کال کې تخمین شوی په داسي صورت کې چې کوم فصلي مشکل رامنځته نشي د افغانستان د دغې ستراتېژۍ له مخې دا مقدار کافی بلل شوی و۰

د دغو سیندي حوزو تفصیل پدې لاندې جدول کې ښودل شوی ده۰

| حوزهٔ دریائی | حجم سالانهٔ آب | | استفاده فعلی | | مساحت | | نفوس | مقدارممکنه آب بر هر نفر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | میلیار متر مکعب | فیصدی مجموعی | میلیارد متر مکعب | فیصدی آب موجود | کیلو متر مربع | فیصدی مجموعی | میلیون | متر مکعب در سال |
| دریای آمو | ۲۲,۰۰ | ۳۹ | ۵,۳ | ۲۴ | ۹۱,۵ | ۱۴ | ۳,۴ | ۶۴۷۰ |
| هریرود-مرغاب | ۳,۰۶ | ۵ | ۱,۳ | ۴۲ | ۷۸,۴ | ۱۲ | ۲,۱ | ۱۴۵۷ |
| هلمند | ۹,۳۰ | ۱۶ | ۵,۴ | ۵۸ | ۲۶۴۹ | ۴۱ | ۷,۱ | ۱۳۱۰ |
| کابل | ۲۰,۷۶ | ۳۶ | ۵,۲ | ۲۴ | ۷۷,۷ | ۱۲ | ۸,۹ | ۲۳۳۳ |
| شمالی | ۱,۸۸ | ۳ | ۱,۸۸ | ۱۰۰ | ۷۱,۷ | ۱۱ | ۳,۳ | ۵۷۰ |
| بدون مجرا | | | | | ۶۷,۹ | ۱۰ | ۰,۲ | |

منبع: وزارت انرژی و آب

خو په دا پنځه واړه حوزو کې د کرزی د ضعیف مدیریت او تورن اسماعیل خوشخدمتی ایران ته تیگه په تیگې کېنښودل شوه یعنی د کار کچه د سلما او بخش آباد کی اوتولوحوزوکې [صفر] نه پورته نشو ځکه چې نه کرزي او نه اسماعیل خان غوښته چې ایران خفه کړي ایران کرزي ته مفته ډالر نه ورکول!!!

له بده مرغه افغانستان له ۷۵ملیاردمترمکعب اوبونه صرفاً ۲۰ملیارد مترمکعبه مصرف وي او همدا د فقراو بېچارگي اساس اوعلت ده، په هیوادکي ځمکي شاړې پاتي او اوبه گاونديوته ورتويږي اما گاونډي د دې ستر نعمت په قدر تراوسه ندي پوشوي ځکه گاونډیانو افغانان په خپلوکي سره اچولي قومی، ژبني او مذهبي اختلافات تې رامنځته کړي او دوی پکي چړچې کوي، د افغنستان دآمو سیند ۲۲ بیلیون متر مکعبه ظرفیت او دهلمند سیند ۹،۳ بیلیون مترمکعبه ظرفیت لري چې باید ترمدیریت لاندې ونیول شي او هیواد وال له فقر اوتنگدستی نه خلاص شي مگر په خواشینی سره ووایم چې د آمو له سینده نه داچې هېڅ استفاده نه کېږي دغه سیند هرکال چې د اوبه سطحه لوړه شي دهیواد داخل خواته راځي چې د سرحد تثبیت شوې نخه له منځه ځي او هم د هیواد ځمکوته زیان رااړوي.

دبرېښنا انرژی چې هم آرزانه اوهم له هرډول چپاړیال ککړونه منزه او پاکه ده نن زمونږ هلمندیان ترې بې برخي دي، افغانستان د خوړو اوبو د شتون نه یوسترغنی هیواد ده چې ۲۵ سترسیندونه او په سل هاو واړه رودونه او د واورو ډک غرونه لري چې خلک باید په ارزښت بې پوه شي اوترې سمه گټه واخلي.

**<u>اوبه، د اوبو منابع او اقتصاد سره ئې تړاو:</u>**

افغانستان د سترو غروڅېښتن ده چې په دې تورو غرونوکې سترې خزانې پرتې دي خو موږ دفقرسره لاس په گریوان یو، دغه ستر یخچالونه چې د هندوکشه نیولې بیا ترسپین غر و فېروزغر سلیمان ود باباغر د پغمان غربي څانگي دي چې دلته زه هریوته یو لنډه کتنه کوم، هندوکش او د غه غرۀ څانگې

تقریباً ۷۵٪ د افغانستان خاور نیولې چې په مجموع کې ۹۹۶ کیلومتر اوږد والی لري ۶۰۰ کیلومترئې د هندوکش په نامه یادېږي اوپاتې په نورو نومونویادېږي، ځنې ځانګې لکه د بابا غر چې ۲۰۰ کیلومتره، تورغر۶۲۸ کیلومتره د پغمان ، سلیمان غر، سپین غراو فېروزغر۳۵۲ کیلومتراوږد والی لري ، دترکستان [تیربند] او [پاراپامیزاد] نورې ځانګې ئې دي، ختیځ هندوکش دایمی یخچالونه او مرکزي هندوکش چې سالنګونه ، یکاولنګ، دصوف دره ، بامیان او هزاره جات وچغچران کې پروت ده ۶میاشتې له واورو ډک دی، د هندوکش لمنی او شاوخوا د پغمان ، بابا، سرخ پارسا، دبهسود درې، سوخته وادی، سبزمیر، ناهور،مالستان، دایه فولاد،ارزګان، غاب، دایکندي، ایماقستان وختیځې ناحیې او د سویلي هندوکش سیمې لکه استالف، ګل دره، شکردره، پغمان، جلګه میدان، جلرېز، بېک سمند، میرداد کلی، خوات، تورمې، تورکان، ککرک، شاګې ،زرسنګ، قره باغ، زردآلو، تمکی، رسنه، سنګ ماشه، دې چوپان، خاک افغان، ارغنداب وادی او ګیزاب د [چینې]سترې زېرمې دي، د بابا دغرلمنی د خاورو سترې تپې دي چې په ژمي کې ډېرې اوبه ذخیره کوي او دوبي کې د اوبو سترې چینې دي خومور له د دغې شتمنۍ نه بې برخې استو۰

ډېرځېرونکې پدې اند دي چې د اوبو دمنابعو او اقتصاد ترمنځ اړیکې متبلوره کړي، د اقتصاد پراختیا د انسانی ژوند د ښه کېدل او سرانه عاید د زیاتوالی سبب کېږي دملګروملتویوه څېړنه دا په ګوته کوي چې د میندو او ماشومانو د مړینې لوی عامل فقر او د ژوند ټولو ارزښتو ته نه لاس رسي له عمله رامنځته کېږي او د دې جملې نه یوه ستره برخه د ناسمو اوبو له څښاکه منځته راځي۰

افغانستان یو له هغه هېوادو نه ده چې سترې د اوبو منابع او زېرمې لري که څه هم د اقلیمی شرایطو له وجې دغه زېرمې زیانمنې شوي، د انرژۍ اوبرېښنا وزارت د یو راپورله مخې افغانستان د اوبوذخیرې ۷۵ میلیارد مکعب متروته رسېږي چې د دې جملې نه ۷۰٪ اوبه ایران او پاکستان ته په وړیا توګه تویېږي او ګاونډیان ئې په قدرهم نه پوهېږي او غواړي چې افغانستان آن د هغه ۳۰٪ نه هم

محروم  او بېرته پاتې وساتي، ناسالم مديريت د متخصصينو نشتون د دې سبب شوی چې افغانستان ونشي کولای د اوبو زېرمو او حوزو په هکله پوره معلومات ترلاسه کړي ، د اوبو سيسيم مدرنيزه کړي او د کښت او کر لپاره نهرونه او بندونه جوړ کړي نن ورځ ٪۶۰ خلک د څښاک دصحي اوبه نه محروم دی  د دغې تشې ډکول هم روزګار رامنځته کوي هم د خلکو ژوند وده کوي او اقتصاد ښه کېږي افغانستان کولی شي هرکال په ميليون هاومترمکعبه اوبه خپل ګاونديوهيواد و باندې وپرولي او عايد زيات کړي، افغانستان يو زراعتی هيواد ده ترڅو زموږ دا خوارې بې سروسامان دښتې چې اندازه ئې ۸ ميليونو هکتاروته رسېږي د اوبولاندې نشي  روزګار  او اقتصاد به  وده ونکړي، د دې ۸ ميليون هکتارسخه يوه ډېره کمه اندا ځمکې په غيرفنی توګه کراو کښت کېږي چې بسيا ندي که څه هم زموږ ٪۴۰ صادرات زراعتی محصولات جوړوي خود اوبو د نشتوالي له امله فقيراو بېرته پاتې يو٠

ګاونډيان زموږ په اوبو سترې پروژې جوړې کړي او زموږ هېوادې په جنګو او نآرامي کې ساتلی ده،  افغانستان کې د بې امنيو ستر عامل هم اوبه دي ځکه ډېرژربه د نفت انرژی پای ته ورسېږي او اوبه به د هَغه ځای ونيسي، اوس افغانستان ۵ ملکوته په وړيا توګه اوبه ورکوي يعنی زموږ ۵۰ ميلیارده ليتره اوبه چې کم ترکمه ۵۰ ميلیارده ډالره قيمت لري په وړيا توګه ګاونديوته رواني دي په داسې حالکې چې پاکستان د کراچۍ بندر پرموږ تړلی ده چې د ټولو نړۍ والو مقرراتوخلاف ده، افغانستان په سلهاو واړه سيندونه او ۲۵ لوی سيندونه لري چې ستر نعمت ګڼل کېږي٠

## افغان  دولت او ايران سره د اوبوشخړه:

نړی وال سيندونه هغه سيندونوته ويل کېږي چې يو يا څو ملکوکې جاري وي، نړيوالو تجربو دا ښودلې ده چې نړيوال سيندونه تل د ملکونه ترمنځ لانجې را منځ ته کړي  دي چې دا لانجې په ضمني توافقاتو عرف سرسم ياد نړيوالو قوانينو په رڼآکې رسمي موافقو يا تړونوته رسېدلي دي که څه هم نړيوال قوانين په دغه عرصه کې محدود دي، ايران هغه ګاوند ده چې د اوبو پرسرې د خپلو ګاونديوسره په تېرو

۴۰۰ کلو کې ستر جنګونه کړي نو ځکه هایدروپولیتک د ایران د بهرنی سیاست یوه مهمه برخه جوړوي او ښې تجربې په دې برخه کې لري، اما د افغانستان سره:

- ایران سره د افغانستان لانجه د اوبو په سر د لمړي ځل لپاره ۱۸۷۱ ز کال چې د ۱۲۵۰ ل کال سره سمون لري رامنځ ته شوه چې خپل منځي خبرو اترو نتیجه ورنکړه نو ځکه نړیوال حَکَمیت ته خبر ورسېده، په ۱۸۷۳زکال کې د «ګلداسمیت» حَکَمیت په اساس یو تړون وشو چې د افغانستان په زیان و د دغه تړون په اساس دواړو خواو هررنګه کارحق په اوبو د لاسه ورکړاو نیماېي اوبه د ایران حقابه تعینه شوه٠
- په ۱۹۰۲زکال کې بیا د افغانستان او ایران ترمنځ اختلاف د[زد] یا د(رود مسیر) کې تغییرد«دلتا» په سر پیدا شو چې په ۱۹۰۵ ز یا د( ۱۲۸۲ل) کال کې د «مکماهون» په حَکَمیت یو تړون رامنځته شو چې د دغه تړون پراساس «دوحصې اوبه د افغانستان او یوه حصه اوبه دایران برخه تعینه شوه» او همداشان افغانستان اجازه پیداکړه چې بند په دې اوبوودان کړي٠
- د مکماهون حَکَمیت هم ونشو کولی چې اختلاف رفع کړي، په ۱۳۱۷ل کال کې د دواړو ملکو ترمنځ بیا خبرې اترې شروع شوې او افغانستان مجبورشو چې نیمائي اوبه ایران ته ورکړي دا معاهده د ایران لخوا دایران سفیر «باقرکاظمی» او د افغانستان لخوا «علی محمدخان» د شاهی دولت د بهرنیو چار وزیر کابل کې لاس لیک کړه دغې معاهدې یوه اعلامیه هم درلوده په اول بند کې داسې راغلي، « دولتین افغانستان او ایران موافقه کوي چې هرکال د هلمند د سیند هره اندازه اوبه چې د کمال خان بند ته رسېږي د ایران او افغانستان ترمنځ با له کمال خان بنده سم نیمایی تقسیمېږي»، مګر دا اعلامیه د افغانستان د ملی انجمن هیت لخوا تایید نشوه مقصد دا چې اجراېي شکل ئې غوره نکړ٠

- د اوبو په سرناندری بیاهم سر ته ونرسېدې په ۱۳۳۰ل کال کې ستونځه د امریکاهئیت ته ارجاع شوه، دلته یو کمیسیون جوړ شو چې د «دلتا» په نامه یادېږي په دغه کمیسیون کې دري کسانو «فرانسیسکو گویز» د چیلي نه، «رابرت لوري» له امریکانه، « کریستو فروب» له کانادا نه د معضلې د حل لپاره وټاکل شول دغه کمیسیون صرف د « سیستان وچخانسور» دلتا ته ځانگړی شو، دغه کمیسیون روسته له تحقیق او سپړنې ۲۲متر مکعبه اوبه په ثانیه کې دایران حقابه تعینه کړه او د افغانستان لخوا چې کوم نهرونه او بندونه جوړشوي ول هم تائید کړل۰

- د ۱۳۵۰ل کال د سختی وچکالي له عمله بیا اختلافاتو د ایران او افغانستان ترمنځ اوج واخیست له دې عمله په کابل کې د «هلمند اوبو» په نامه یوه جبهه جوړه شوه، «محمد یوسف فرند» د روزگار جریدې مسوول؛ سیاسی احزابوته بلنه ورکړه چې د هلمند اوبو موضوع دې د بحث لاندې ونیسي، البته د ایران سیاسی فشارهم په عین حال کې زیات شوی و او د «گلداسمیت» معاهدې تطبیق ئې غوښته۰

- په ۱۳۵۱ل کال د «هلمند اوبوجبهې» چې غړي ئې سیاسي احزاب او تخنیکي کارپوهان ول یوه جلسه جوړه کړه چې همدا جلسه د ۱۳۵۱م لمریځ کال د افغانستان و ایران ترمنځ د موافقه اساس وگرځېد، او د «دلتا» کمیسیون د وړاندیځ به اساس ۲۲ مترمکعبه اوبه د ایران [حق آبه] او ۴مترمکعبه نور د ښه گاوندیتوب په نیت ایران ته وبښل شوې، او موافقه په ۱۲ مادو کې د اروا ښاد ښاغلی «محمد موسی شفیق» د افغانستان د شاهی دولت صدراعظم او مرحوم میرعباس هویدا د ایران صدراعظم ترمنځ لاس لیک شوه چې جمعاً ۲۶ مترمکعبه اوبه به ایران ته حق آبه وکول کېږي دغه معاهده د دواړو ملکود پارلمانونه لخوا تصویب شوه مگر اسناد ئې چې د ښاغلي سردارداوود خان د کودتا له عمله ځنډېدلي ول د ۱۳۵۶ل کال کې یو بل ته وسپارل شول۰

**د ۱۳۵۱ ل کال دمعاهدی حقوقی ارزښت:**

د وينا کانوانسيون وائي: « معاهده له هغه نړيوال توافق څخه عبارت ده چې د ملکونو ترمنځ په کتبي توګه نړۍ والو حقوقو سرسم لاسليک شي، پرته له خاص سرليک ئې په يو واحد سند يا په څو سندوکې په مرتبط شکل منعکس شوې وي۰» دهمدې عمله د۱۳۵۱ل کال معاهده د نړيوال معيار سره سم يو دو اړخيز تړون ده، او په بشپړه توګه د اجراء وړ، چې هيڅ حقوقی مشکل نلري، د نړۍ وال قانون ۲۶مه او ۳۱مه معاهده «حسن نيت» نه خبره کوي چې هغه هم پدې معاهده کې په نظرکې نيول شوې ده او۴ مترمکعبه اوبه د حسن نيت په نامه ايران ته ببنل شوي دي، د معاهداتو د حقوقو ۲۴ماده دواړه غاړې د معاهدې اجرائي کول ته ملزم بولي، نو پدې اساس ايران څکه مکلف د دې معاهدې په پلي کولو دی۰

د نړۍ وال معاهداتو دحقوقو، ۲۸مه ماده يول مخکني تعهدات او معاهدې لغوه کوي نو څکه د ايران تلاش او اسرار په تېرو معاهداتو چې د « ګلداسميت» معاهدې پلي کولو په خوب کې ده؛ د نړۍ والو قواعد پر اساس باطل شمېرلکېږي، او بله داچې روسته له دغه تړون نه نورتړونه هم شوې چې د ګلداسميت معاهدې ارزښت باطل وي، د نړيوالو معاهدات د حقوقو ۲۰مه ماده د شرط حق آزاد پريښی لېکن مشروط پدې چې د معاهدې د اهدافو خلاف نه وي ۰

د۱۳۵۱ل کال د هلمندمعاهدې څلورمه ماده د تعديل حق د اقليمی وضعيت سره سم ذکرکړی، يعنی افغانستان حق لري چې په وچکاليوکې د ۲۶ مترمکعب نه کمې اوبه ايران ته ورکړي۰

د نتيجه په حيث د۱۳۵۱ کال د هلمند معاهده چې د افغانستان او ايران لخوا لاس ليک او د پارلمانو لخوا تصويب او اسناد ئې په ۱۳۵۶ل کال کې يو بل ته سپارل شوي دي دواړو خواو ته قانونې او اجرائي حيثيت لري، او د افغانستان ولس مشرښاغلی ډاکترمحمداشرف غنی هم دې همدې معاهدې پر اساس اقدامات تر لاس لاندې نيولي دي۰

**په ۲۱ بندونو د عملي کار پيل:**

یو اساسي ستونزه چې افغانستان ورسره مخ ده هغه د ګاونديانوسره د سیندونو د اوبو پرسر د تړونو یا موافقو نه شتون ده، د آمو، کنړ، هلمند وهريرود سیندونو اوبه منځنې آسیا، پاکستان او ایران ته په وړیا توګه توېږي مګرتراوسه دغه سهم په قانوني توګه تثبیت شوې نده صرف د ایران سره چې د هلمند معاهده لاسلیک شوې ده اوبس، ګاونديان د افغانستان له نارامیو ګټه وچتوي او له دغو اوبونه ستره ګټه اخلي، د ډاکتراشرف غنی له راتګ سره سم اوس د اوبو او انرژي وزارت تلاشونه پیل کړي دي چې دغه معضلې په قانوني بڼه حل کړي۰

د اوبو او انرژي وزارت وائي چې په ۲۰۱۶زکال کي د ۲۸ بندونو سروې پیل شوې، د کمال خان بند دریمه برخه، د شاه عبدالله بند په سمنګانو کې، د شورابه بند سرپل کې، د آبګیربند سمنګانو کي ، د دهنه دره بند په فاریاب کې، د تنګه شادیان بند بلخ کې ، دخان آباد ۲ بنده قندوزکې، د پلخمري د لمړي او دوهم بند بیا روغونه بغلان ولایت کې، د دغه وزارت د لویو کارنو څخه دي چې به پرې کار وشي، د اوبو او انرژي وزارت له قوله پنځ لوی بندونه لکه د بخش آباد بند په فراه کې، د آغاجان بند په ارزګان کې، سروبی ۲ په کابل کې او دو بنده نور په قندهار او پکتیا کې ترمطالعې او ډیزاین لاندې نیول شوي۰

ښاغلی ډاکتراشرف غنی وویل چې افغانستان به یوکال کې د تېرسل کالوپه اندازه برق تولید کړي، د اوبو او برېښنا وزارت وائي چې تېرو سل کالوکي د برېښنا په تولیدې پروژو کارندی شوی د دغه وزارت د پروژو د تطبیق سره سم به د ښاغلي ډاکترغنی خبرې تحقق ومومي۰

**<u>د افغانستان وړیا اوبه او د پاکستان ارته خېټه:</u>**

هغه څه چې افغانستان ته د اهمیت وړ دي د کابل او کنړسیند پرسر د بندونو جوړول دی ځکه کومه انرژي چې به د کنړ له سینده ترلاسه شي خورا ارزښتناکه او لوړه به وي، په دې وروستیو کې چین ژمنه کړې چې د کنړ ولایت په سیند به د ۱۵۰۰ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا بند جوړ کړي چې له برېښنا به یې افغانستان او پاکستان دواړه ګټه پورته کوي.

«د ولسمشرۍ مانۍ له لوري په یوه ټویټر پیغام کې ویل شوي، د کابل ـ کنړ به اوبو د برېښنا پروژې د سروې او طرحې کار به چینایي کمپنۍ اجرا او په شپږو میاشتو کې بشپړ کړي»بی بی سی.

د ډاکتر غنی په ډېرځیرکانه یو عمل سره وشو کولی چې د دغه بند چارې د چین هیواد سره چې د پاکستان یو ستر ستراتیژیک متحد ده وسپاري دا کار به د دې سبب شي چې پاکستان ونشي کولی ورانکاري ته زړه ښه کړي، په کنړ سیند برېښنا جوړول او یوه اندازه برېښنا خیبرپختوانخوا ته ورکړل دا کاربه د دې سبب شي چې هم پښتنو سیموکې تکنالوژی وده وکړي او هم به د بند امنیت تظیم شي، که څه هم ښاغلی احمد شکیب مستغنی د بهرینوچارو وزارت ویاند اریانا نیوز ته وویل چې پاکستان هم په کنړسیند د برېښنا د دغه بند له جوړیدو سره موافقه کړې او همکارۍ ته یې تیاري ښودلی، مګر دپاکستان دومخی سیاست او لوړ خواهشات به دې سبب شي چې پاکستان سبوتاژ ته لارخلاصه کړي٠ لـه بلې خوا د پاکستان د اوبـو د څېړنـې مرکز وایـي چـې پاکسـتان بــه تـر کال 2025 پـورې د اوبـو لــه قلـت سره مـخ شي د اسـیا پراختیایي بانـک د راپـور پر بنسټ پاکستان په نـړۍ کـې د اوبـو لـه کمښـت څخـه ډیر اغیزمن دی او پـه نـژدې وخـت کـې بـه د هغـه هیوادونـو پـه قطـار کـې ودریږي چې د اوبـو لـه کمښـت سره مـخ دي . نـو ځکـه پاکسـتان هــم هڅــه کـوي چـې د کنړ د سیند پـرسر د بنـد جوړولـو مخـه ونییس او پاکسـتان اقتصـاد پوهـان په دې نظـر دي چـې پاکسـتان که اوبـو تـه پـام ونکړي نـو دا بـه دې ځـان وژنـې پـه مانـا وي . لـه بلـې خـوا بیـا زمـوږ د شمـال ګاونـډي هیوادونـه د اوبـو د سرچینـو لـه کبله غنـي دي .تاجکسـتان د انرژي د تولیـد لـه کبلـه پـه نـړۍ کـې اتـم ځـای لـري ۵۲۷ میلیـارده کیلـو واټـه کلنـې ظرفیـت لـري د دې تـر څنـګ ازبکســتان هــم د انــرژۍ پــوره زیرمـې لـري او کلنـی ظرفیـت یـې ۱۲۴۰۰ میـګا واټــه دی پــه همـدې ډول ترکمنســتان هــم د انـرژۍ دتولیـد پـه برخـه کـې غنـي هیـواد دی ، له دغو هېوادو برېښنا اخیستل ښه کار ده خو بنځټځ ارزښت نشي لرلی، افغانستان باید هرڅه ژر چې ممکنه وي د کنړپه سیند کارپیل کړي د یوخوا کاسا ۱۰۰۰ او ترانزیتي لار منځنۍ آسیا ته او بلې خوا د کنړپه سیند بند دا به سبب شي چې پاکستان دانرژي پلوه افغانستان پورې وتړل شي هغه هم په داسې حال کې چې د پاکستان اړتیا اوبو ته هرورځ زیاتیږي٠

پایان


اخذونه

-کمبود آب، و آب در افغانستان ویکی پیدیا

-تنظیم منابع اب درافغانستان ویکی پیدیا

- دښاغلی عبدالعزیز حیدری اقتصادی او انکشافی کارپوه مقاله بی بی سی

-رابط میان آب وتوسعه اقتصادی درافغانستان د دچیوپلي سایت

-کارمقدماتی ۲۸ بند درافغانستان دوچیوپلي سایت

- استراتیژی انکشاف ملی افغانستان

http://mew.gov.af/Content/files/Water_Sector_Strategy.pdf

-د اوبو اقتصادی ارزښت د ښاغلي محمد داوود نیازي لیکنه د دنیا ورځپانه (آی تي)

-د اوبو او انرژي وزارت رسمی وب پانه

- د بی بی سي سایت د افغانستان اوبه

-همدا راز یوشمیر مرتبطي لیکنې او نظریات مطالعه شوي